مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقیري ۲۰۱۹/۰۱/۳۱

# د حفیظ الله امین او امریکا پټې خبرې

نیویارک ټایمز د جنوري پر ۲۹ لیکي: د ۱۹۷۹ په اکتوبر کې، د افغانستان جمهور رئیس حفیظ الله امین امریکایي دیپلومات ښاغلی ارچر بلووډ خپل دفتر ته ور غوښت. پدې وخت کې پخوانی جمهور رئیس، نور محمد تره کی، تازه په بالښت وژل سوی وو. که څه هم د کابل حکومت د شوروي په مدار کې وو، خو حفیظ الله امین یو بل خیال لاره. بلووډ پخپل یاداشت کې، چې واشنګټن ته ئې مخابره کړی وو، لیکي،«زه فکر کوم چې امین غواړي د امریکا او افغان روابط ښه کړي. امین غواړي چې پر شوروي اتحاد باندي خپله زیاتېدونکې تکیه راکمه کړي.»

د ښاغلي بلوود نوي خپاره سوي سري یاداشتونه دا مسئله څه روښانه کوي چې ولې شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړ. لکه څنګه چې جمهور رئیس ترمپ ادعا وکړه، شورویانو افغانستان د تروریزم په خاطر اشغال نه کړ، بلکې د هغوی اصلي محرکونه دا وه چې ښایي افغانستان د غرب خوا ته میلان پیدا کړي، او خپله وفاداري له شرق څخه غرب ته کړي.

د دې اسنادو د خپرولو مسول ښاغلی تامس بلانټن وایي،«دا یو مهم وخت وو، او په شوروي اتحاد کې ئې بېره را منځته کړې وه. دا په بین المللي روابطو کې یوه ښه د عبرت درس دئ. پدې اسنادو کې تاسې دا لیدلای سئ چې طرف مقابل څه احساس لاره؟» د شوروي لخوا د افغانستان اشغال د ترمپ لپاره د عبرت ښه درسونه لري، څکه ترمپ غواړي چې دا ۱۷ کلن جنګ ختم کړي.

افغانستان یو ښکلی هیواد دئ، خو په عین زمان کې د بې سابقه قساوت مرکز هم دئ. مختلف اقوام ژوند پکښې کوي، او په پېړیو پېړیو د جیوپالیتکل رقابت مرکز هم پاته سوی دئ.

په ۱۹۷۹ کې د شوروي اشغال، د دواړو سترو طاقتونو روابط خړپړ کړل. جمهوررئیس کارټر د ۱۹۸۰ د المپیک لوبې بایکاټ کړې، او پر شوروي باندي ئې د غنمو خرڅلاو وځنداوه. هغه دغه راز د امریکا د اردو په تقویه کولو لاس پوري کړ چې بیا وروسته جمهوررئیس ریګن لا تشدید کړ، او د مجاهدینو سره ئې مرستي لا زیاتی کړی.

د شوروي تر جنګ راوروسته، د امریکا ځینو افغان ملګرو واشنګټن ته شا کړه، او افغانستان د القاعدې په مرکز بدل سو. د سپټمبر تر حملو راوروسته، جمهوررئیس بوش افغانستان ونیو، او طالبان ئې رانسکوره کړل. خو اوس ترمپ استدلال کوي چې د راوتلو وخت رارسېدلی دئ. ترمپ ووېل،«شوروي افغانستان ځکه اشغال کړ چې تروریستان روسیې ته ور اوښتل. هغوی حق لاره چې افغانستان اشغال کړي.» البته د امریکا هیڅ پخواني جمهوررئیس د شورویانو تجاوز نه وو تائید کړی، او د ترمپ غلط تاریخي معلوماتو یو پراخ تمسخر راولمسوی.

ښاغلی بلانټن، چې همدا یاداشتونه ئې مطالعه او څېړلي دي، وایي چې په اول سر کې د شوروي د اشغال د انګېزو په باب د امریکا تعبیر او تفسیر غلط وو. د شوروي تر اشغال فقط دوې ورځې راوروسته، د امریکا د ملي امنیت مشاور ښاغلی بریژنسکي په یوه یاداشت کې جمهوررئیس کارټر ته لیکلي ول،«له ډېر وخت راهیسې مسکو د دې خیال لاره چې د هند د سمندر تودو اوبو ته لاسرسی ولري.»

خو اصلي موضوع دا وه چې کرملین غوښتل چې یو ملګری کمونسټ حکومت له ړنګېدو څخه وژغوري. شوروي د مسایلو یو تحلیلګر، ښاغلي میاکل ډابس، وایي،«که چیري شورویانو افغانستان غرب ته بایللی وای، هغوی به دا منلای وای چې تاریخ په شا تلای سي. او دا کار به د هغوی ګرده امپراتوري ور درې وړې کړی وای.»

د بلووډ یاداشت دا ښیي چې حفیظ الله امین غوښتل له امریکا سره خپل روابط ښه کړي، همدې مسئلې په مسکو کې بېره ایجاده کړې وه. مسکو نه غوښتل چې بل مصر (۱۹۷۲) پیدا سي، او د مسکو له مداره ووځي. د ۱۹۷۹ د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اکتوبر پر ۲۷ مه، د امین او بلووډ په ۴۰ دقیقي ناسته کي، حفیظ الله امین په انګریزي خبري کولي، او غوښتل ئي چي د متحده ایالاتو سره نژدې روابط قایم کړي. هغه په امریکا کي تحصیل کړی وو.

ښاغلی بلووډ په یوه یاداشت کي لیکي،«امین فیصح ږغېدی. هغه د امریکا په برخه کي خپله مینه اظهاروله، ځکه هلته اوسېدلی وو. هغه شخصاً غوښتل چي د امریکا - افغان روابط ښه کاندي.» بلووډ علاوه کوي،«امین دا نه منل چي په افغانستان کي شوروي تصمیم نیسي. هغه ادعا کوله چي د شوروي په شمول به د هیڅ خارجي طاقت لپاره د افغانستان استقلال قرباني نه کړي.»

لدې ملاقات راوروسته، ښاغلي بلووډ د امین په اړه مثبت نظر غوره کړ. هغه لیکي،«امین یو ګیرا او مؤثر شخص دئ. هغه پر ځان مطمین دئ. هغه پدې پوهېږي چي د افغان د مشرانو د مرګ ګراف جګ دئ. زموږ په خبرو کي، څو ځله هغه راته وویل، «حتی که زه سبا ووژل سم.» هغه د دې توان لري چي خپل قساوت او زېږتوب پخپله نرمه لهجه او روش کي نیهام کړي.»

د امریکا سره د حفیظ الله امین پدې خبرو باندي مسکو خبر سوی وو، او کرملین وار خطا وو. د ۱۹۷۹ په ډسمبر کي، یوري اندروپوف د شوروي اتحاد مشر، بریژنیف، ته په یوه یاداشت کي لیکي،«موږ ته داسي معلومات رارسېدلي دي چي امین غواړي په پټه د غرب سره خپل سیاسي روابط ټینګ کړي. هغه د امریکا د سفارت له شارژ دافیر سره خپل تماس زموږ څخه پټ او سري ساتي.» د اندروپوف همدا یاداشت په ۱۹۹۵ کي خپور سو. د ۱۹۷۹ د ډسمبر پر ۸ د پولیټ بیرو په یوه بله غونډه کي، ښاغلي اندروپوف او د وخت د دفاع وزیر ښاغلي اوستینوف وایي چي ښایي امریکا په افغانستان کي خپلي توغندی نصب کړي.

اندروپوف پدې مجلس کي وایي که چیري امین خپله جبهه بدله کړي، دا به په جنوبي آسیا کي د قدرت جیوپالیټکل انډول بدل کړي. ښاغلی بلووډ وایي،«دا به د دې مانا ولري لکه مکسیکو چي شوروي ته اجازه ورکړي چي هلته د نژدې واټن توغندي نصب کړي. دا به څرنګه یو حالت خلق کړی وای؟»

ښاغلی بلووډ ویلي ول،«واشنګټن ما ته امر کړی وو چي د حیفظ الله امین سره وګورم. واشنګټن ما ته وویل چي یوازي به هله د افغانستان سره خپل کومکونه بېرته جاري کړي چي امین د امریکایي سفیر ښاغلي ډابس د قتل په باره کي قانع کونکي معلومات راکړي.»

په شوروي اتحاد کي د برتانیي سفیر ښاغلی برېټویټ وایي له ډېر وخت راهیسي دا یوه څرګنده خبره وه چي کرملین د امین به باب تشویش لاره، او ګومان ئي کاوه چي امین امریکا ته میلان لري. مګر د افغانستان د اشغال په اړه د شوروي مشرانو څو انګېزې لرلې. هغه زیاتوی، «د شوروي اصلي اندېښنه دا وه چي خپل آسیب پذیره جنوبي سرحدونه وساتي، ځکه هغوی پر دې مسلې باندي په لسیزو کار کړی وو، او نه ئي غوښتل چي دا سرحدات ورته مشکل ایجاد کړي.»
بلخوا، د نور محمد تره کي مرګ هم کرملین له امین څخه ناراضه کړی وو. شوروي غوښتل چي امین ووژني. یو ځل ئي په کوکا کولا کي زهر ور اچولي ول، خو د کوکا کولا کیمیاوي خاصیت زهر اوبلن کړي ول. څو هفتي وروسته، کې جي بي د امین په خوړولو کي زهر ور اچولي ول، خو په کابل کي د شوروي سفارت لدې دسیسي څخه ناخبره وو، او سمدستي ئي د امین د علاج لپاره روسي ډاکټران ور لېږلي ول. خو بالاخره امین هله ووژل سو چي د شوروي په زرهاوو عسکرو افغانستان اشغال کړ.

شوروي ګومان کاوه چي د افغانستان اشغال به د هنګري او چکوسلاکیا غوندي چټ وي. مګر د افغانانو مقاومت سخت وو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ